# د اجمل خټک د شعر په ژبه د فارسی ژبې اغیز

# Influence of Persian language on poetry of Ajmal Khattak.

Mr. Fazal Azim*

**Abstract**:

In this current research article, an attempt has been made to prove this claim as to how the poetry of Allama Iqbal and Ajmal Khattak has been influenced by Persian language. In this regard, the poetry of Allama Iqbal and Ajmal Khattak has been reviewed. With provision of various references, and in the light of Dr. Allama Iqbal's poetry, this has been proved that Ajmal Khattak's Pashto poetry is specially under great influence of Persian language and he is specially inspired from Dr. Allama Iqbal's poetry. In this poetry Dr. Allama Iqbal clearly mentioned Great Khushal Khan Khattak. In similor passion, Ajmal Khattak Baba repaid this kindness of Dr. Allama Iqbal in his Pashto poems. Ajmal Khattak Baba in this Pashto poetry clearly quinched his thirst with poetry. He has written his poetry in such away that clearly indicates his inspirations. In same case it seems to be the complete translation of his poetry. For this reason he had deep insight into the poetry of Great Khushal Khan Khattak. Dr. Allama Iqbal had greatly valued Pashto Heros, poets and also great Afghan and Pashtoon people. He has also pin pointed this inspirations in his poetry.Particularly which is the reason for overall inspirations.

Ajmal Khattak has sketched Dr. Allama Iqbal's poetry from the core of his heart in his own poetry with generous will. Riaders of this article can witness that Ajmal Khattak is greatly inspired from the Persian poetry of Allama Iqbal.

**Keywords:** Persian language, Pashto Poetry, Allama Iqbal, Ajmal Khatak,

* PhD Scholar Department of Persian University of Peshawar, Khyber Pakhtunkhwa

لنډيز:

«په دې مقاله کښې دا زيار شوے چې د ډاکټر محمد اقبال (رح) د شعرونو او دغه راز د اجمل خټک بابا د شعرونو په رڼا کښې دا وښنا ثابته کړل شي چې څرنګه دا ويلي شو که د اجمل خټک بابا د پښتو شعرونه د فارسۍ ژبې تر اغېز لاندې راغلي دي. په دې کښې د دې وښنا په باب د اجمل خټک او د علامه اقبال شعرونه هم راوړل شوي دي. په بېلابېلو حوالو او د علامه محمد اقبال د شعرونو په رڼا کښې دا ثابته کړل شوې ده چې د اجمل خټک بابا په پښتو شعرونو باندې د فارسي ژبې په ځانګړې توګه د علامه ډاکټر محمد اقبال (رح) څومره اغېز ليدل کېږي. که علامه اقبال د خوشحال بابا د پښتو شعرونو تر اغېز لاندې راغلے دے. په خپلو فارسي شعرونو کښې ئې د سترخوشحال خان خټک بابا ډاګين ذکر کړے دے. دغه اجمل خټک بابا د علامه اقبال (رح) د دغه احسان بدل خلاص کړے دے. په خپلو پښتو شعرونو کښې ئې د ډاکټر علامه محمد اقبال د فارسۍ شعرونو په حواله خپله تنده ماته کړې ده. داسې شعرونه ئې په پښتو کښې ليکلي دي چې پوره په پوره د علامه اقبال رحمت الله عليه د شعرونو ژباړه په نظر راځي. علامه اقبال پښتنو اتلانو، شاعرانو او ټول پښتون (افغان) اولس له ډېر ارزښت ورکړے دے. د دغه غرض د پاره ئې د خوشحال بابا د پښتو شعرونو ښه کوټلي لوسته کړې ده. په خپلو شعرونو کښې دغه اغېز په ګوته کړے هم دے. هم دغه اغېز د دې لامل شوے دے. چې اجمل خټک بابا هم د علامه اقبال د فارسۍ شعرونه د زړه په مينه لوستلي او په خپلو شعرونو کښې د هاغه شعرونو حوالې ښه په خلاص مټ ورکړې دي. لوستونکي به د دې مقالې په لوستو په خپله په دې پوهه شي چې د علامه اقبال د فارسۍ شعرونو د اجمل بابا په شعرونو څرنګه اغېز کړے دے»

**سريزه يا وړاندوئېنه**:

د اجمل خټک د فارسۍ ژبې په باب که غواړو څه وليکو نو ډېر اوږد وخت او غټې غټې کتابونه او رجسټرونه ورته پکار دي. خو په دې ليکنه کښې ښايي چې يوه لنډه يادؤنه هم پوره وي.

په دې باب بده نۀ ده چې د ښاغلي اسرار طورو د ليد حواله هم ورکړو. هغه په دې اړه د اجمل خټک شخصيت تر سرليک لاندې په خپله ليکنه کښې چې په افغانستان کښې د

اجمل خټک د زېږېدنې د اتیایمې کلیزې د نمانځنې په دستوره کښې لوستې وه، داسې ولیکل:

« اجمل خټک د ښوونځي عمر ته د رسېدلو نه مخکښې د استاذ امام عبدالقیوم سره د قرآن شریف ناظره، خلاصه، منیا او د فارسۍ کتابونه لکه کریما ، ګلستان او بوستان ولوستل او د خپلې ترور سره ئې د پښتو کتابونه لکه نورنامه، جنګنامه او رشیدالبیان هم په ځیر سره ولوستل. په حجره کښې به ئې خدایي خدمتګاران (د ډېورنډ د لیکې دواړو خواو ته د پرتو پښتنو د لاړښود باچاخان پلویان) هم لیدل راليدل او پښتون مجله به ئې لوستله. (1)

د اجمل بابا د ټولو پښتو انقلابي نظمونو، شعرونو، غزلو او لیکنو نه په ښه توګه دا جوتیږي چې دغه ستر انقلابي شاعر د فارسۍ شعرونه ښه په ځیر سره لوستي دي. په تېره بیا د علامه ډاکټر محمد اقبال (رح) د فارسۍ شعرونه ئې ښه د زړه د تل نه لوستلي او ارزؤلي دي. هم دغه د علامه اقبال د فارسۍ شعرونو لوست او مطالعه ده چې د اجمل خټک بابا په پښتو شعرونو کښې د فارسۍ بلها توري په کار راوستل شوي دي. په دې خبره کښې هم شک نشته چې علامه محمد اقبال (رح) هم د خوشحال بابا د پښتو شعرونو ښه په خلاص مټ لوسته کړې ده. هم دغه خبره د دې ډاګین ثبوت دے چې علامه اقبال (رح) د خوشحال خان بابا د شعرونو نه اغېزمن شوے دے. دغه اغېز د اجمل خټک بابا په شعرونو په تېره بیا انقلابي نظمونو کښې ښه په ډاګینه توګه تر سترګو کېږي. هسې خو د اجمل خټک بابا هر شعر، هره مصرعه، هره غزله، هر نظم، هره نثري لیکنه، هره د غېرت چیغه د اولس د درد او نول نه ډکه ده. هم دغه فکر د اجمل بابا د شعرونو بنسټ او اډانه ده. نو بیا څنګه دا ممکنه ده چې د علامه محمد اقبال په څېر د انسانیت او سړیتوب د خواخوږي شاعر فکرونه دې ؤنه لولي؟ اجمل بابا د علامه محمد اقبال (رح) په شعرونو کښې هغه ټول درد او غم په خپلو سترګو په تېره بیا د زړه په سترګو لیدلو کوم چې د اجمل بابا په زړه کښې غزؤنې کؤلې.

زما په خیال اجمل بابا چې د علامه اقبال د زیږېدو د ورځې په مناسبت کوم تاریخي نظم په پښتو کښې لیکلے او په کال نولس سوه اووه پنځوسم زیږدیز (۱۹۵۷) کښې د پېښور د ولایتي شورا په ودانۍ او اسمبلي هال کښې ئې آورؤلے ؤ. نو په داسې ډول نظمونو پکار ده چې تاریخي څېړنې وشي. کتابونه پرې ولیکل شي. د پي ایچ ډي د مقالې په توګه وربانديې لا نور څېړنیز کار او زیار وشي. په دغه نظم کښې اجمل بابا د خپل اولس ټولې کنډې کړمې او ستونزې ډاګینې کړي دي. په دې باب ټولې ګیلې علامه محمد اقبال (رح) ته کؤل غواړي.

هغه پرې خبرؤل غواړي. د خپل اولس ستونزې آوارؤل او د خپل اولس د ښکېلاک د جغ نه د آزادؤلو د پاره لاره لټؤل ئې ارمان دے. ځکه چې اجمل بابا دا کلکه عقيده لري چې علامه اقبال د وختونو د نبضونو نه خبر او د فطرت د هنګامو سره بلد دے. په خپل فکر او خيال دا زماني تلي. د اولسونو د عروج او زوال په درملو پوهېږي. علامه اقبال د ژوند د غوښتنو د هرې پېښې نه خبر او د الحاد تيارو ته د ايمان زېرے دے. هم دغه اقبال په خپل رسان نظر پښتون (افغان) اولس ته کتلي دي. د افغان اولس په روح کښې اخلي سره بخري ئې ليدلي دي. د پښتون اولس د روح دننه د لمبو او د بې وزلو پښتنو د زړونو د ټپونو او دغمو نه آګاهي لري. د اجمل بابا د اسوېلو د تاوونو او د پښتنو د خړو خولو دننه د طوفانونو نه خبر دے. اقبال د پښتونخوا په درو کښې داسې زرکې وينې چې شهباز ئې هم د سترګو د لمبو نه په شا زغلي او تښتي. د اجمل بابا په وېنا، علامه محمد اقبال هاغه هوسۍ هم ويني کومې چې د پړانګانو او ازمرو نه قلنګونه اخلي. د دغه رنګ هوسيو نه د پښتونخوا ځنګلونه او درې ډکې دي. علامه محمد اقبال (رح) په خپل رسا نظر هغه د غېرت نه ډک پښتانه اتلان او نران هم ليدلي دي چې په تل ئې په ستورو کمندونه اچؤلي دي. د اجمل بابا د هاغه ستر نيکه خوشحال خان په غېرت او مړانه هم قايل ښکاري چا چې به د مغل او غليم د سورو د سورلۍ د ګرد او دوړو نه هم تل خپل ځان بچ ساتلو. اجمل بابا وايي: علامه اقبال د هاغه روهيليانو د ايمان او مړانې هم منونکے دے چې د چا د نامې نه به هندوانو خپل ماشومان وېرؤل. علامه محمد اقبال (رح) د پښتو د ننګ او پت انځور ليدلے او د محراب ګل په نامه ترېنه د پښتنو دا اودهٔ ملت او اولس خبروي.

په پای کښې د علامه اقبال (رح) په باره کښې د عقيدت د څرګندؤنې ښکارندوي د اجمل بابا دا شعرونه هم د وړاندې کؤلو جوګه او وړ دي.

بيا وايمه چې دې دانائې راز باندې جرګه شوے
د کاڼو په پنجره کښې دغه ګل سره دېره شوے
داخپل خيرې ګرېوان اومات تندے مې ورته يوړے
چې دا رېزه رېزه د زړه غمے مې ورته يوړے

دا خپل ژوبل احساس تتلے فکر مې غنچه کړے

هغې د زړۀ خاوند ته مې ترې جوړه يو تحفه کړے
په ما چې تل بلېږي دې لمبو نه مې خبر کړے
په ما چې دلته کېږي دې قيصو نه مې خبر کړے

خبر ئې په دردونو د دې خپل سوي ګوګل کړم
زما په غم شريک دے چې يو اور وربانديې بل کړم
چې جوړې ئې ګنبد کښې د تاوونو غلغلې کړم
چې بيا ئې په رګونو کښې برخېره زلزلې کړم

چې ؤشلوي لحد او کفن خيرې کړي ګويا شي
پټ ستر ګې زمانې ته په غصه شي په وينا شي
زما د روح د پاکو تقاضو نه ئې خبر کړي
د دې پردې د لاندې زلزلو نه ئې خبر کړي (۲)

اجمل خټک بابا په دغه دانايې راز باندې جرګه کؤل غواړي. د کاڼو په پنجره کښې د دغه ګل اروابښاد ډاکټر محمد اقبال سره دېره کېدل ئې ارمان وي. د وخت د يزيديانو د زور ظلم او ستم په توره خپل خيرې ګرېوان او د جبر په کاڼو مات شوے تندے ورته ښودل غواړي. د وخت د مغلو او بلوسګرو د لاسه په پښتنو په تېره بيا د زمانې د ستمګرو د لاسه خپل چور چور زړګے ورته وړل او ښودل غواړي. د زړګي رېزه رېزه غمے ورته وړي او ګيله ورته کوي چې د وخت بلوسګرو او ستمګرو ورسر څومره زياتے کړے دے. اجمل بابا خپل ژوبل احساس او تتلے فکر ورته د غنچې په پڼه وړي او ورته په هغه ټولو ظلمونو شکايت کوي کوم چې د وخت د يزيديانو د لاسه په دغه ستر انقلابي او ملي شاعر څو څو ځله شوي دي. دغه د غمونو غنچه هم د احساس څښتن علامه ډاکټر محمد اقبال (رح) ته ډالۍ کؤل غواړي. اجمل بابا علامه اقبال ته د هغو لمبو او قيصو داستان هم اورؤل خپله دنده ګڼي کومې لمبې چې په هغه بلېږي. او کومې قيصې چې په دغه پښتون خيال شاعر تېرېږي. د خپل سوي ګوګل دردونه او داغونه ورته وړي. له دې لارې په خپل غم شريک علامه اقبال باندې په ګور کښې هم د دغه ظلمونو د بيانؤلو په رڼا کښې اور بلؤل غواړي. په ګنبد ئې د

تاوونو غلغلې جوړې شي. په رګونو کښې ئې زلزلې رابرڅېره شي. تر دې چې لحد ؤشلوي. کفن څيرې کړي. راپاڅي او ګويا شي. دې پټ سترګې زمانې ښه په غصه شي. او ورباندې د خپل زړه بړاس وباسي. دغه پټ سترګې زمانه د اجمل بابا د روح د پاکو غوښتنو او تقاضو نه او هم د دغې پردې د لاندې پرتو زلزلو نه خبر کړي. په دا رنګه عقيدت کښې بيا دا څنګه کېدے چې د اجمل بابا په پښتو شعرونو دې د فارسۍ ژبې اغېز نۀ وي؟

د دې څېړنې (تحقيق) موخه (غرض):

زه د فارسۍ ژبې او ادبياتو د مينه والو د هاغه ټولي (انجمن) غړے يم چې په هيواد په تېره بيا پښتونخوا کښې ئې د فارسۍ د پرمختګ لپاره بې شاري خدمتونه ترسره کړي دي. ما هم د دغه ټولي يعنې د خټکو کورنۍ ( اجمل خټک، ډاکټر ميرغزن خان خټک، ډاکټره نصرت جهان خټک او ډاکټره شفقت جهان خټک) په لارښوونه وکړل شول چې د فارسۍ د ادبياتو د ايم اے يعنې د شپاړسم ټولګي په آزموينه کښې د پاکستان د يو پښتون او اتل محصل په توګه په نهه سوه دوه (۹۰۲) لمبرو اخستلو سره په دغه کال کښې د هېواد د يو وتلي محصل په حېث په ټوله پښتونخوا او پاکستان کښې تر ګردو زياتې لمبرو اخستلو وياړ ترلاسه کړم.

په دې وړه شان ليکنه کښې زما وړانديز دا دے چې په دې باب د څېړنې د محصلينو، د ادبياتو د مينه والو په تېره بيا د هاغه کسانو چې په فارسۍ او پښتو دواړو ژبو ښه پوهېږي، له اړخه لازياتې هلې ځلې وشي. ترڅو د اجمل خټک د شعرونو لاژيات اړخونه وڅېړل شي. دغه شان زما دا وېنا هم ثابته شي چې د فارسۍ د يو پښتون مينه وال اجمل خټک د شعرونو ژبه ترکومې کچې د فارسۍ ژبې تر اغېز لاندې راغلې ده؟ کله چې لوستونکي دغه اړخ ته پام لرونکي شي نو په خپله به هغوي د اجمل بابا په شعرونو د فارسۍ ژبې د اغېز په رڼا کښې د علامه اقبال (رح) شاعري هم ښه په غور او ځير سره لولي. په دغه زيار کښې به د اجمل بابا د انقلابي او ملي فکرونو سره سره د علامه اقبال د فارسۍ د شعرونو او د پشتنو په باب د هغه د ډېرو غوره خيالونو نه هم پوره په پوره خبرېږي. لوستونکو ته به نوې نوې د څېړنې لارې پرانستل کېږي.

د علامه محمد اقبال (رح) فکر او د اجمل خټک بابا فکر هم د يوبل سره په ډېرو اړخونو کښې سمون خوري. ځکه چې علامه اقبال په جاوېدنامه نومې کتاب کښې په خپل يو نړلوال شعر کښې په فارسۍ ژبه داسې فرمايلي دي:

باد صبا اگر به جنيوا گذر کني + حرفي زما به مجلس اقوام باز گوي

دهقان و کشت و جوي، بيابان فروختند + قومي فروختند و چه ارزان فروختند

د پښتو ژباړه به ئې د شعر په ژبه داسې وکړم چې:

د سبا باده چې تېر په جنېوا شې + نو ملګرو ملتو ته به ګويا شې

وياله، دښته او پټې دهقان ئې خرڅ کو + قام ئې خرڅ کړلو خو ډېر ارزان ئې خرڅ کو

دغه شان ورته خيال د ستر اولسي، انقلابي او ملي شاعر اجمل خټک بابا په شعرونو کښې بلها ليدل کيږي. لکه چې د غېرت چغه کښې داسې د نظر ځرګندؤنه کوي.

زمانې! ستا اسلام مې هم وليدو + دے خو په کلب کښې ګډېدے هم شي

دغې ته څنګه دين ايمان ووايم + چې په نوټونو خرڅېدے هم شي

زما اسلام څه ډېر معصوم غونډې دے + منم چې نن سبا مظلوم غونډې دے

بس دے ستا لويو او وړو ته سلام + اے زمانې! ستا رنګينو ته سلام

په همدغه انقلابي نظم کښې اجمل خټک د پردو او پېرنګيانو ګوډاګو او بړېڅو ته داسې ګوته نيسي او په دا رنګه القابو او نامو ئې يادوي. لوستونکي دې ورته ځير شي چې اجمل بابا څومره رسا او کوټلے فکر لري. په دغه باره کښې د چا هم د برندو سترګو نه په زړه کښې وېره نۀ محسوسوي او ښه په ډاګه ډګلې د زړه بړاس داسې وباسي.

څوک د لندنه نازل شوے نبي + څوک د انګرېز خليفه شوے بابا

دغه د يو په تار ختلې ګوډۍ + هاغه په بل پورې تړلے ګوډا

د بل سورنا ته ګډېدونے پرېږدم + د بل په مزي تاوېدونکے پرېږدم

ځانته نسخه د خپل لقمان جوړؤم + ځانته د ځان غونډې جهان جوړؤم

د دغه همفکرۍ په رڼا کښې علامه محمد اقبال چې پښتانه اتلان او نوميالي شاعران او يا افغان باچايان په کومو درنو تورو او لفظونو ياد کړي او ستاېلي دي نو د دې خبرې حق لري چې د پښتنو ستر انقلابي او ملي شاعر اجمل خټک بابا دې په داسې د پشتون

او افغان اولس خواخوږي شاعر د خپلو پښتنو خیالاتو څرګندؤنه وکړي. اجمل بابا د علامه اقبال (رح) هغه ځانګړتیاوې جوتې او څرګندې کړي دي د کومو نه چې ډېر پشتانه لیکوالان او شاعران هم ناخبره وو. د اجمل بابا د پښتو شعرونو لوستل او دغه شان د ډاکټر علامه محمد اقبال د فارسۍ یا اردو شعرونو په لوستلو سره دا ثابتیږي چې د اجمل بابا په پښتو شعرونو یا د شعر په ژبه د فارسۍ ژبې اغېز څرنګه احساس کؤلے شو؟

## د مقالې اصلي متن:

په هغه کتاب کښې چې د افغانستان د لوړو زدکړو وزارت د اجمل خټک د زېږېدنې د اتیایمې کلیزې په ویاړ خپور کړے، د اجمل بابا د شعر په ژبه د فارسۍ ژبې اغېز ته په پام کولو سره داسې نخښې نښانې موندلے شو چې د اجمل خټک د شعر په ژبه د فارسۍ ژبې اغېز ډاګینوي. خپله اجمل خټک په خپله د دې سرلیک لاندې په لیکنه « زما د زېږېدو د اتیایمې کلیزې په ویاړ علمي دستوره کښې زما وېنا» کښې لیکي: « کله چې ما ته د دغه دستورې په باب خبر راکړل شو او په زړه کښې مې ووېل په دې دستوره کښې به برخه اخلم او په دغه دستوره کښې ما ته هم د نظر څرګندؤنه پکار ده. هم په دغه وخت زما په زړه او مغزو کښې د سیمې او نړۍ د راتلونکې، د افغانستان د روانو چارو، د دې هیواد د راتلونکو کشالو، هیلو او ارمانونو په موخه خیالونه او فکرونه رامخې ته شول. او د علامه اقبال دا شعرونه راته را یاد شول چې وایي:

اسیا یک پیکر آب و گل است + ملت افغان در آن پیکر دل است

از کشـاد او کشـاد اسیا + از فسـاد او فسـاد اسیا

ما په خپلو پښتو شعرونو کښې دغه شعرونه داسې راوستي دي.

که زه په خړ خیبر کښې لکه مړو غونډې اوده یم

خو دے وایي چې نا! زه د تمامې ایشیا زړه یم

زما په آبادۍ د ایشـــیا ټولې آبادي ده

زما په بربادۍ د اېشـــيا ټولې بربادي ده

مطلب دا چې که اېشيا د اوبو او خاورې يو کالبوت دے نو افغان اولس پکښې د زړه رول لوبوي. يعنې د دغه اولس خوشحالي او نېکمرغي د اېشيا خوشحالي او نېکمرغي ګڼل کېږي. او د دې هيواد او اولس په بربادۍ کښې د اېشيا بربادي پټه ده. او ما چې کله د دغه شعرونو معنې ته پام وکړو او د دې سيمې او افغانستان په تاريخ مې نظر واچؤلو نو د علامه اقبال دا شعرونه سل په سلو کښې سم ثابت شول.» (۳)

خپله د علامه اقبال په جاوېدنامه کښې دغه پورتنے شعر داسې ليکل شوے دے.

از فســـاد او فســـاد آسيا + در کشاد او کشاد آسيا (۴)

اجمل خټک په دغه دستوره کښې د خپلې ليکنې په پای کښې د خپلو ملي جذبو او ولولو په ثابتؤلو کښې داسې ليکي: « په پای کښې د افغانستان د ولس مشر او خپل ګران ورور حامد کرزي مننه کؤم او د دې هېواد د لوړو زدکړو د وزارت هم مننه چې دا دستوره ئې راجوړه کړه. د هاغه ليکوالو، شاعرانو او هغه کسانو هم مننه چې په دې دستوره کښې به خپلې مقالې يا شعرونه وړاندې کوي. دغه راز په دې دستوره کښې د ګرانو ګډونوالو برياليتوب غواړم چې زما د ډاډ او حوصلې لوړولو لپاره ئې دلته تشريف راوړے او د زړه په مينه ئې په دې ناسته او دستوره کښې ګډون کړے دے. په خپل يو شعر دا وېنا پای ته رسؤم چې په دې ورځو کښې دا شعر په دې خاطر وايم چې په اوسني وخت کښې دغه شعر د خپلې ملي راتلونکې غبرګنم.

زما د نيکه کور او ورور به خداې کا يو صلاح شي

د وينو په دې ډنډ کښې به يو نوے ګل پيدا شي » (۵)

اجمل بابا د فارسۍ ژبې ستر فلسفي او شاعر علامه محمد اقبال لاهوري د فکرونو په باب په يو تاريخي نظم کښې تر دې سرليک لاندې چې « از ضياءِ روحِ افغاني بترس» دا ثابته کړې ده چې فارسي ژبه د اجمل خټک د شعر په ژبه تر څومره اندازې اغېز لري؟ ړومبے

دا چې د خپل نظم لپاره د علامه اقبال د فارسۍ د شعر د يوې مصرعې يا بيت سرليک راوړلے دے.

میر خیل از مکر پنهاني بترس + از ضیاءِ روحِ افغاني بترس (۶)

د «از ضیاء روح افغاني بترس» تر سرليک لاندې د اجمل خټک د تاريخي نظم څو شعرونه په کومو کښې چې د فارسۍ تورو لاندې ليکه راکښل شوې ده.

(دا نظم د اقبال د ورځې په وياړ په ۱۹۵۷ کښې د پېښور په ولايتي اسمبلي هال کښې ولوستل شو. اجمل)

اقبال چې د فطرت د هنگامو سره آشنا دے
اقبال چې د وختونو د نبضونو نه آگاه دے
حکيم چې زمانې تلې په فکراو په خيال
دانا د ملتونو په عروج او په زوال

زما په ابادۍ د ايشيا ټولې ابادي ده
زما په بربادۍ د ايشيا ټولې بربادي ده
زما بېداربدو ته اقبال خپله ترانه شي
زما د ننگ بڅري ئې پُوکلي چې لمبه شي

زما د قبيلو نفاق چې ويني نو خفه شي
دے ژاړي چې زما د وحدت سنگ پاره پاره شي
اول د داسې لوړاقبال په روح باندې سلام دے
يواځې زما نۀ، د پښتنو د پوره قام دے (۷)

ښاغلي اجمل خټک د اقبال په باب دغه نظم کښې د فارسۍ نهه ځلوېښت توري کارؤلي دي چې په دا ډول دي.

« آشنا، آگاه، حکیم، فکر، دانا، ملت، عروج، زوال، حیات، الحاد، خیال، گرد، قائل، وحدت، سنگ، پاره، داناي راز، گنبد، کفن او گویا وغیره.

د ده په یوه مصرعه یا بیت کښې د علامه اقبال نومیالي شعر ته اشاره کړې او تر اغېز لاندې ئې راغلے دے. د اقبال شعر د افغانانو او د فن او پوهې د مرکز غزني په اړه داسې دے.

آه غزني آن حريم علم و فن + مرغـزارِ شـيرمردانِ كهن (۸)

علامه اقبال وايي د خواشینۍ ځاې دے هاغه غزني چې یو وخت د پوهې او فن ځانګو او د پخوانو اتلانو او مېړنو مرغزار (شین چمن) ؤ. اوس د خلکو د ځان ځانۍ او کورنو اختلافاتو ښکار شوے دے. د اقبال دغه شعر د اجمل خټک په شعر کښې انځور شوے او دغه انقلابي شاعر دغه شعر ته په پام کؤلو سره په پښتو ژبه خپل نظر څرګندوي. د اقبال شعر داسې دے.

در جهان آواره اي بيچاره اي + وحدتي گم كرده اي صد پاره اي (۹)

ژباړه: په نړۍ کښې در په در او بې اسرې یې
تا ورک کړے دے یووالے سل ټوټې یې

د اجمل د پښتو شعر د اقبال هم دغه اند ښنه داسې ډاګېنوي او وايي چې:

زما د قبيلو نفاق چې ويني نو خفه شي
«دے ژاړي چې زما د وحدت سنګ پاره پاره شي» (۱۰)

دا دے د پښتو په یو ستر او نومیالي استاذ، پوهاند، شاعر، څېړنوال، نقاد، لیکوال او ادیب د فارسۍ ربتونے اغېز چې د پښتو ژبې نه وروسته د فارسۍ سره څومره مینه لري؟ تل دې یاد وي او روح دې ئې ښاد وي.

د ښاغلي اسرار طورو په دې وضاحتونو لاړیاته ډاګېنېږي چې اجمل خټک ولې او څرنګه د فارسۍ ژبې تر اغېز لاندې راغلے او هم له دې امله وو چې هغوي د ارواښاد ډاکټر میرغزن خان خټک، د اردو او فارسۍ څانګې د پخوانۍ مشرې ډاکټرې نصرت جهان خټک، او د پېښور پوهنتون د فارسۍ د څانګې پخوانۍ مشرې ډاکټرې شفقت جهان خټک په څېر ستر او نومیالي ادیبان او پوهان د پېښور پوهنتون فارسۍ څانګې ته ورکړي دي. د ډاکټر میرغزن خان خټک دغه دوه څکه خوېندو (زما درنو استاذانو او لارښوونکو) د ایران په تهران پوهنتون کښې د فارسۍ ادبیاتو د ډاکټریټ یعنې پي ایچ ډي د بشپړؤلو نه وروسته، د پېښور پوهنتون د فارسۍ په څانګه کښې د فارسۍ د ودې او پرمختګ د پاره

ځومره خدمتونه کړي دي نو چې ترځو په نړۍ کښې د فارسۍ ادب وي، د ختکو د دغه کورنۍ ارزښتناک خدمتونه په هيڅ جوړ ځوک نۀ شي هېرؤلې. د دغه ټولو وياړونو بنسټګر هم اجمل ختک دے. ځکه چې دوي او ګران مشر اروابناد ښاغلي اورنګزيب خان ختک چې د فارسۍ دغه دريو ډاکټرانو (ډاکټر ميرغزن خان، ډاکټرې نصرت جهان او ډاکټرې شفقت جهان) ډېر خوږ پلار دے، خپل بچي د فارسۍ ځانګې پېښور پوهنتون په شپاړسم ټولګي کښې نامې ليکلو ته اړ کړل. په دغه کار ئې د فارسۍ ژبې او ادبياتو سره د مينې لرلو حق ثابت او ترسره کړ.

## حوالې

(1 ) - وزارت آموزش عالي افغانستان - سال ۱۳۸۲ - د اجمل خټک یاد
چاپ مرکز مطالعات منطقه اي افغانستان - کابل - ص: 66
(۲) خټک اجمل - د چاپ کال - ۲۰۰۷ - د غـېرت چغه
یونیورسټي بک ایجنسي خیبربازار - پېښور، مخونه : 121،
۱۲۲،123

(۳) وزارت آموزش عالي افغانستان - سال ۱۳۸۲ - د اجمل خټک یاد - چاپ
مرکز
مطالعات
منطقه اي افغانستان - کابل - ص: ۱۸
(۴) جاوید نامه، محمد اقبال، علامه، سال چاپ یازدهم 1986م،
شیخ غلام علي ایند سنز - لاهور - صفحه: 178
(۵) وزارت آموزش عالي افغانستان - سال ۱۳۸۲ - د اجمل خټک یاد
چاپ مرکز مطالعات منطقه اي افغانستان - کابل - صفحه: 20
(۲) هاشمي حمیدالله شاه پروفسور - بي تا - شـرح کلیات اقبال
مکتبه دانیال - لاهور - صفحه: 966
(۷) خټک اجمل - د چاپ کال ۲۰۰۷ - د غېرت چغه - یونیورسټي
خیبربازار پېښور - صفحه : 121 تا 124
(۸) هاشمي حمیدالله شاه - پروفسور - بي تا - شرح کلیات اقبال
مکتبه دانیال - لاهور - صفحه: 966
(۹) همان ماخذ صفحه: 967
(۱۰) خټک اجمل - د چاپ کال ۲۰۰۷ - د غېرت چغه - یونیورسټي
خیبربازار پېښور - صفحه : 123

هاغه کتابونه چې د دې مقالې او ليکنې د پاره لوستل شوي دي:

ختک اجمل - د چاپ کال ۲۰۰۷ - د غېرت چغه - يونيورسټي خيبربازار پېښور

جاويد نامه، محمد اقبال، علامه، سال چاپ يازدهم 1986م، شيخ غلام علي ايند سنز - لاهور -

هاشمي حميدالله شاه پروفسور- بي تا - شــرح کليات اقبال مکتبه دانيال - لاهور -

وزارت آموزش عالي افغانستان - سال ۱۳۸۲- د اجمل ختک ياد چاپ مرکز مطالعات منطقه اي افغانستان - کابل

## References

1 - Wazarat-e-Amozashe Aali Afghanistan- 1386 –Da Ajmal Khattak yaad Chap markaze mutaleatemanteqaee Afghanistan- Kabal- Page: 66

Book 2 - Khattak Ajmal – Da Chap kal 2007 - Da gherat chagha – University agency
Kheyber bazaar Peshawar - Page: 121 ta 123

3 - Wazarat-e-Amozashe Aali Afghanistan- 1386 –Da Ajmal Khattak yaad Chap manteqaee Afghanistan- Kabal- Page: 18 markaze mutaleate

4 - Javednama, Mohammad Iqbal, Allama, Chapw yazdahom 1986,Sheikh Ghulam Ali
& sons – Lahore - Page: 178

5 - Wazarat-e-Amozashe Aali Afghanistan- 1386 –Da Ajmal Khattak yaad Chap manteqaee Afghanistan - Kabal - Page: 20 markaze mutaleate

Maktabae 6 - Hashimi Hamidullah Shah Prof. - Bi ta - Sharhe Kulyate Iqbal danyal –
Lahore - Page: 966

Book 7 - Khattak Ajmal – Da Chap kal 2007 - Da gherat chagha – University agency
Kheyber bazaar Peshawar - Page: 121 ta 124

Maktabae 8 - Hashimi Hamidullah Shah Prof. - Bi ta - Sharhe Kulyate Iqbal danyal –
Lahore - Page: 966

Maktabae 9 - Hashimi Hamidullah Shah Prof. - Bi ta - Sharhe Kulyate Iqbal danyal –
Lahore - Page: 967

Book 10 - Khattak Ajmal – Da Chap kal 2007 - Da gherat chagha – University agency
Kheyber bazaar Peshawar - Page: 123

## **The books are studied for this Article**:

Khattak Ajmal – Da Chap kal 2007 - Da gherat chagha – University
Book agency Kheyber bazaar Peshawar

Javednama, Mohammad Iqbal, Allama, Chapw yazdahom 1986,
Sheikh Ghulam Ali & sons – Lahore

Hashimi Hamidullah Shah Prof. - Bi ta - Sharhe Kulyate Iqbal
Maktabae danyal - Lahore

Wazarat-e-Amozashe Aali Afghanistan- 1386 –

Da Ajmal Khattak yaad, Chap markaze mutaleate manteqaee Afghanistan - Kabul